# د شهيد ډاکتر نجيب الله د پنځلسم تلين په مناسبت

# د وطن ګوند د ننګرهار ولايت د لنډ مهاله تشکيلاتو د ځوانانو ولايتي شورا

د سپيڅلي او مهربان خداي په نامه

د ننګرهار ولايت د وطن ګوند د لنډ مهاله تشکيلاتو د ځوانانو ولايتي شورا د تسليت پيغام د شهيد ډاکتر نجيب الله د شهادت د څوارلسم تلين په مناسبت:

د ځوانانو د لنډ مهاله تشکيلاتو ولايتي شورا د ننګرهار ولايت د ويښ ځوان کول په استازيتوب د شهيد ډاکتر نجيب الله د شهادت د څوارلسم تلين په مناسبت با شهامته افغانانو ، په ځانګړي توګه د ګران هيواد ځوان نارينه او ښځينه قشر ته تسليت وايي.

څرګنده ده چه شهيد ډاکتر نجيب الله د افغانستان پخواني جمهور رئيس او د وطن ګوند رئيس د افغانستان په معاصر تاريخ کې په بيساري توګه ټولي هغه هلي ځلي وکړي چه په افغانستان کي د جګړې د پاي ته رسيدو ، ډاډمني سولي او سوکالي لپاره اړيني وي، ان تر دي چه د قدرت څخه تيريدل چه د افغانستان په تاريخ کي يو بي مثاله عمل دي ، هغه په دي لاره کي او د وطن د استقلال ، ځمکني بشپړتيا او ملي حاکميت د ژغورلو لپاره خپل خوږ ژوند هم نذرانه کړ ، په همدي مناسبت مونږ يو ځل بيا د ملي روغي جوړي د سياست پلويانو ، سوله او امن خوښونکو افغانانو ، په داخل او بهر کي د وطن ګوند د لنډ مهاله تشکيلاتو غړو او د شهيد ډاکتر نجيب الله محترمي کورني ته تسليت وايو او د شهيد روح ته د ښادي او بښني دعا کوو.

په درنښت

د وطن ګوند د ننګرهار ولايت د لنډ مهاله تشکيلاتو د ځوانانو ولايتي شورا